بسم الله الرحمن الرحيم




# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دوشنبه ۲ تله ۱۴۰۳ هـ ش | ۲۰ ربیع الاول ۱۴۴۶ هـ ق | ۲۳ سپتمبر ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۷۷)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړی، نړی والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې له اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب تر ټولو مخکې درته د اسلامي عدالت خپرونې ته هرکلی وایو او ډېره زیاته مننه کوو چې موږ ته مو د دې مرکې لپاره وخت راکړ.

**۱. پوښتنه:** محترم شیخ صاحب که لومړی د اداري او مدیریت په اړه معلومات راکړئ؟

**ځواب:** الحمدلله رب العالمین و الصلوة و السلام علی نبینا محمد و علی آله و اصحابه اجمین اما بعد: د اداري په اړه ډېری علماوو او پوهانو نظرونه ورکړي او اداره یې تعریف کړې ده، لکه امام د وزی پخپل کتاب کې د اداري لفظ داسې تشریح کړی دی: وقال ادارالسیاسة اي دبد امورها وجهه فی یالعمل و ذکرالحدثون الاداره تتکون فی جمیع العملیات التی تستهدف السیاسة العامة وتشتمل علی ادارة المدنیة والاقتصادیة والعکسریه والقضائیه وغیرها.

سالم اداري سیستم او غوره مدیریت د هر هېواد په پرمختګ کې یو مهم فکتور ګڼل شوی او دغه فکتور د یوه اکاډمیک ډسپلین په توګه پېژندل شوی دی، سالم اداري سیستم د انسان د ژوندانه اساسي برخه ده؛ ځکه انسان په یوه اداره شوې کورنۍ کې پیدا شي، په کورني اداري نظم کې لویېږي، په اداره کې زده کړې کوي او د انسان اکثریت ژوند که هغه انفرادي وي یا اجتماعي په اداري منجمنټ کې تیرېږي؛ نو انسان ته د سالم مدیریت چې د افرادو د فعالیتونو څرنګوالی څاري ضرورت احساسېږي چې د ټولنې هر وګړی خپل، خپل مسؤولیتونه او صلاحیتونه وپېژني او د اداري د پرمختګ او موخو لپاره کار وکړي.

که په اداره کې اداري چارې اهل کسانو ته وسپارل شي نو د اداري پلانونو تطبیق به ډېره ګټوره توګه ترسره کولای شي، عموماً اداري که وړې یا غټې یا منځنۍ وي، تجارتي یا غیر تجارتي وي؛ دولتي یا غیر دولتي، عایداتي او یا خدمتي وي د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره یو غښتلی اداري کاري پلان ته ضرورت لري چې په همغږۍ او همکارۍ خپلو مقاصدو ته ځان ورسوي او خلکو ته خدمتونه وړاندې کړي.

**۲. پوښتنه:** محترم شیخ صاحب! که په دا نوي ۱۴۰۳ لمریزکال کې د سترې محکمې د تشکیل په اړه راته ووایاست، چې ستره محکمه په ټول هېواد کې کومو ـ کومو برخو کې څومره تشکیل لري؟

**ځواب:** د ۱۴۰۳ هـ ش کال په جریان کې د سترې محکمې او ماتحت محاکمو اړوند تشکیل مجموعاً (۱۵۳۲۵) بستونو ته رسېږي، چې له دې ډلې یې (۳۰۰۹) قضائي بستونه، (۳۱۱۴) اداري بستونه، (۱۸۸۸) خدماتي بستونه او (۷۳۱۴) یې نظامي بستونه دي، دا په داسې حال کې ده چې تېر (۱۴۰۲ هـ ش) کال کې د محاکمو تشکیل مجموعاً (۶۹۲۶) بستونه و چې له دې ډلې یې (۲۹۱۷) قضائي بستونه، (۲۵۹۸) اداري بستونه او (۱۴۱۱) یې خدمتي بستونه وو.

**۳. پوښتنه:** شیخ صاحب! که د دویمې پوښتنې په ډول راته ځواب کړئ، چې ستره محکمه په رأس کې څو معاونیتونه لري، او کوم ـ کوم دي؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې په تشکیل کې څلور معاونیتونه (د مرکزي زون قضائي معاونیت، د جنوب لوېدیځ زون قضائي معاونیت، د نظامي محاکمو معاونیت او اداري معاونیت) لري، چې هر معاونیت بیا تر خپل چتر لاندې اړتیا ته په کتو ریاستونه او نورې اداري لري، ترڅو اړوند چارې په ټاکلي وخت ترسره کړي.

**٤. پوښتنه:** محترم شیخ صاحب! که د اداري معاونیت کاري استقامت راته تشریح کړئ؟

**ځواب:** د سترې محکمې اداري معاونیت لکه له نوم څخه چې ښکاري په ټولیز ډول د افغانستان اسلامي امارت د ټولو محاکمو اداري چارې کنټرول او ترسره کوي، په دې سربېره د سترې محکمې اداري معاون د سترې محکمې د عالي شورا عضویت لري او د عالي شورا په ټولو عادي او فوق العاده ناستو کې ګډون کوي، دغه راز هغه کسان چې غواړي د سترې محکمې اړوند ماتحت ادارو کې خدمت وکړي، ملکف دي چې خپل غوښتنلیک د سترې محکمې اداري معاونیت ته وسپاري، اداري معاونیت د دوی غوښتنلیک اړوند کمېټې ته (د سترې محکمې د ازموینو کمېټې) ته راجع کوي.

**۵. پوښتنه:** محترم شیخ صاحب! څلورمه پوښتنه مو په دې ډول ده چې ستاسو د معاونیت تر چتر لاندې په مرکز او ولایتونو کې څومره ریاستونه او اداري شتون لري؟

**ځواب:** د سترې محکمې او ماتحت محاکمو د اداري چارو د ښه ترسره کېدو په موخه د سترې محکمې د اداري معاونیت تر چتر لاندې مرکز کې (۱۰) ریاستونه موجود دي چې له دې ډلې یې (۳) عمومي او (۷) عادي ریاستونه دي چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

- د بشري سرچینو عمومي ریاست
- د مالي او اداري چارو عمومي ریاست
- د حقوقو عمومي ریاست
- د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
- د پلان او پالیسۍ ریاست
- د دعوت او ارشاد ریاست
- د اداري چارو ریاست
- د مالي او حسابي چارو ریاست
- د استخدام او سوانحو ریاست
- د اجراآتو د ارزونې او ظرفیت لوړونې ریاست

**٦. پوښتنه:** د اسلامي امارت د فتحې درې کلونه پوره دي، که راته واضح کړئ چې د لومړیو کلونو په نسبت په دوسیو کې زیاتوالی او کموالی راغلی دئ؟

**ځواب:** محاکمو ته د راجع شوو دوسیو د ډېروالي یا کموالي اړوند پوښتنې په ځواب کې لومړی دا ویل ضروري ګڼم چې کله محاکمو کې عدل تأمین وي او محاکم د اسلامي شریعت مطابق پرېکړې صادروي نو په محاکمو د خلکو باور ډېرېږي له همدې وجې هېوادوال هڅه کوي چې هره کوچنۍ یا لویه موضوع محاکمو ته راجع او خپل شرعي حق ترلاسه کړي؛ بناءً د افغانستان اسلامي امارت محاکمو ته هم د راجع شوو حقوقي دوسیو شمېر د مخکې په پرتله ډېر دی؛ خو د جزائي موضوعاتو دوسیو بیا د تېر په پرتله کمې محاکمو ته راجع کېږي، چې دا خپله د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته په هېواد کې د جرایمو د سطحې د کموالي ښکارندويي کوي، الحمدلله د محاکمو لخوا د فیصله شوو دوسیو شمېر هم د هر کال په نسبت راتلونکي کال ته ډېر وي؛ د بېلګې په توګه د افغانستان اسلامي امارت درې ګونو محاکمو د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جریان کې (۸۰۱۲۴) حقوقي او (۵۴۴۵۷) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې؛ په داسې حال کې چې درې ګونو محاکمو د ۱۴۰۲ هـ ش کال په جریان کې (۱۰۶۹۰۳) حقوقي او (۷۰۵۹۷) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**۷. پوښتنه:** شیخ صاحب! که دا معلومات راکړئ چې د سترې محکمې په مرکز او ولایتونو کې د تعمیراتي ستونزو د هوارې په برخه کې څومره کار شوی دی؟ د مراجعینو او قضاتو د ناستې ځایونو چې ویجاړ وو او یا هم نه وو جوړ سوي تاسو تر کومې اندازې ورته رسېدنه کړې ده؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اداري معاونیت د سترې محکمې د محترم عالي مقام په هدایت د هېواد د ټولو درې ګونو محاکمو د اړتیاوو معلوملو په موخه د هېواد ټولو ولایتونو ته پلاوي ولېږل او د دوی اصلي دنده داوه چې په اداري برخه کې د محاکمو اړتیاوې تشخیص او راپور یې له عالي مقام سره شریک کړي، یادو پلاوو د ټولو محاکمو ضروریات معلوم کړي او د سترې محکمې د عالي مقام په هدایت د هر کال بودجې ته په کتو موږ هڅه کړې چې د محاکمو د نورو برخو په څېر د ودانیو برخې ستونزو ته هم رسېدنه وکړو، دوی ته نوې

### په نبوي دوره کې د ځینو قاضیانو یادونه:

**دوهمه برخه**

**۳- ابو موسی اشعري (رضي‌الله عنه):**

په صحیح بخاري او نورو کتابونو کې له ابوموسی څخه روایت دی چې وویل: زه په داسې حال کې چې له اشاعره وو څخه دوه کسان ــ یو مې راسته لوري او بل کیڼ لوري ته وو ــ پیغمبر (صلی‌الله عیله وسلم) ته ورغلم، داسې مهال چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مسواک واهه، هغه دووکسانو (د دندې) غوښتنه وکړه، پیغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) وویل: اې ابوموسی، یا اې عبدالله بن قیس! ومې ویل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې ته یې په حقه رالیږلی یې چې زه په هغه څه نه وم خبر چې د دوی په زړه کې وو او ما داسې احساس نه کاوه چې دوی د یوه کار غوښتنه کوي، ګویا چې ما یې تر شونډو لاندې مسواک ته کتل چې شونډه مبارکه یې پورته شوه، وروسته رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) وویل: «هېڅکله نه، یا یې وویل: موږ هغه څوک په کار نه ګماروو چې دی یې غوښتنه وکړي، خو اې ابوموسی یا اې عبدالله بن قیسه! ته یمن ته لاړ شه؛ وروسته یې معاذ بن جبل رضي الله عنه ورپسې ولیږه، دا چې نوموړي ته ورغی، بالښت یې ورته کېښود او وویل، راځه ښکته، دغه مهال یې ولیدل چې له نوموړي سره یو کس دی، معاذ (رضي‌الله عنه) وویل: دا څوک دی؟ هغه وویل: دا یهودی و، اسلام یې قبول کړ او وروسته بېرته یهودي شو، ابو موسی اشعري (رضي‌الله عنه) وویل، کېښېنه، هغه وویل: ترڅو دغه سړی ونه وژل شي نه کېښېنم، دا د الله تعالی او د هغه د رسول (صلی‌الله عیله وسلم) امر دی، هغو دوو صحابه وو درې ځله دا خبره تکرار کړه. وروسته د یهودي د قتل حکم وشو او هغه ووژل شو، ورپسې دوی د قیام اللیل یادونه وکړه او د دوی یوه تن وویل: زه د تهجد لمونځ کوم او ویده کېږم، هیله لرم هغه اجر چې له قیام اللیل حاصلوم له خوب هم حاصل کړم.

اخذلیک: تتمة النظام، ۴۵ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې له اداري معاون...

ودانۍ جوړې کړو يا د اړتيا پر مهال ورته مخکنۍ ودانۍ ترميم کړو، د بېلګې په ډول د ۱۴۰۲ هـ ش کال په جريان کې د سترې محکمې د مقام ودانۍ، د کابل ښاري ابتدائيه محکمې، د کابل د وثايقو آمريتونو، د قضائي زده کړو عمومي رياست، د کابل د څو ولسواليو ابتدائيه محاکمو، د کونړ، جوزجان، زابل، پکتيا، بغلان، غزني او يو شمېر نورو ولايتونو اړوند محاکمو لپاره اړتيا ته په کتو يا نوې ودانۍ جوړې شوې يا مخکنۍ ودانۍ ترميم شوې دي.

**۸. پوښتنه:** د اداري کارمندانو د ظرفيت لوړونې په برخه کې څومره کار شوی دئ؟ څومره کسانو ته سيمينارونه ورکول شوي دي؟

**ځواب:** تاسو ته بهتره معلومه ده چې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې په تشکيل کې د اداري منسوبينو د ظرفيت لوړونې په موخه يو مشخص رياست موجود دی، د دغه رياست دنده دا ده چې د سترې محکمې اداري کارکوونکو د اداري چارو برخه کې د ظرفيت لوړونې په موخه ورته لنډ مهاله سيمينارونه او روزنيز پروګرامونه ترتيب کړي، چې په دې برخه کې الحمدلله د سترې محکمې د ظرفيت لوړونې رياست هم د پام وړ لاسته راوړنې لري، دغه رياست کې د تېر ۱۴۰۲ هـ ش کال په جريان کې په (۱۴) روزنيزو دورو کې سلګونه کسانو ته د اداري اجراآتو اړوند ضروري زده کړې ورکړې دي.

**۹. پوښتنه:** محترم شيخ صاحب! دا چې تاسو د سترې محکمې د قضاتو او کارمندانو د ګومارنې لپاره د امتحاناتو کمېټې مشر په حيث ياست، نو د دوی د ګومارنې لپاره د امتحان تر مرحلې د راتګ لپاره کوم څه ته ضرورت دی او مرحله يې څه ډول ده؟

**ځواب:** د سترې محکمې په قضائي او اداري تشکيل کې د وړ او مسلکي کسانو د جذب په موخه د سترې محکمې عالي مقام لازمه ګڼلې چې يوه با صلاحيته کمېټه جوړه کړي، که يو څوک غواړي د سترې محکمې په قضائي برخه کې د قاضي، مفتي يا محرر په حيث خدمت وکړي، ياد دغه راز غواړي چې د سترې محکمې اړوند اداري بستونو کې مسؤوليت ترسره کړي؛ نو دوی بايد لومړی د سترې محکمې اداري معاونيت ته ليکلی غوښتليک وسپاري چې په غوښتنليک کې د داوطلب کس پوره شهرت، د زده کړو کچه، د کار تجربه او لاسليک موجود وي، اداري معاونيت دغه غوښتنليک ګوري او اړوند کمېټې ته يې راجع کوي، وروسته د ازمويني کمېټه د اړتيا پر مهال له ياد کس سره اړيکه نيسي او په ټاکلي وخت يې د ازموينې لپاره راغواړي، د يادې کمېټې د غړو لخوا له نوموړي کس څخه تحريري او تقريري ازموينه اخيستل کېږي، بيا د نوموړي کس نمرو او ښې سابقې ته په کتو ياد کس ته د سترې محکمې په مربوطه اداره کې د خدمت فرصت ورکول کېږي.

**۱۰. پوښتنه:** شيخ صاحب! د عامه پوهاوي په برخه کې کوم ګامونه اخيستل شوي دي؟

**ځواب:** د سترې محکمې د اړوند چارو او کارونو په اړه د عامه پوهاوي او دغه راز له هېوادوالو سره د سترې محکمې او ماتحت محاکمو د اجراآتو د شريکولو مسؤوليت په ټوله کې د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست لخوا ترسره کېږي، دغه رياست د عامه پوهاوي، معلوماتو او اطلاعاتو شريکولو برخه کې چاپي، غږيزې او ويډيويي پروګرامونه لري.

تر هېوادوالو د يادو پروګرامونو د رسولو په موخه ستره محکمه رسمي ويب سايټ، ايکس پاڼه، تلګرام چينل، واټس اپ چينل او د ټولنيزو رسنيو نور ادرسونه لري. دغه رياست د سترې محکمې او ماتحت محاکمو اجراآت او اړوند معلومات په څلورو ژبو(پښتو، دري، عربي او انګليسي) خپروي او تر خلکو يې رسوي او د محاکمو په اړه د عامه پوهاوي د سطحې لوړولو لپاره بېلا بېلې خپرونې؛ لکه: د قضاء مجله، د ميزان جريده، خبري بولتن، اخبار ميزان پښتو او دري ويډيويي خپرونه، اسلامي عدالت ويډيويي خپرونه، ستره محکمه په اونۍ کې ويډيويي خپرونه، ولس او قضاء خپرونه او ... ترتيب او نشروي.

دغه راز د قضاتو او نورو قضائي غړو د ظرفيت لوړونې او مطالعې لپاره مهم او ګټور قضائي کتابونه ترتيب او چاپوي.

**۱۱. پوښتنه:** محترم شيخ صاحب! د اخيري پوښتنې په توګه که مو دا پوښتنه ځواب کړئ، چې د محاکمو مسؤولينو او مراجعينو ته مو پيغام څه دئ؟

**ځواب:** د محاکمو مسؤولينو ته مو پيغام دا دی چې زموږ د نظام بقاء ستاسو په تقوی، الهي رضا او ستاسو په صداقت پورې اړه لري او مراجعين دې د توحيد کليمې تر بيرغ لاندې پر اسلامي نظام شکر اداء او اطاعت وکړي.

## محترم مولوي محمدولي (حقاني) د بلخ ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې د نوي رئيس په توګه وټاکل شو

د بلخ ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې لپاره نوی ټاکل شوی رئيس محترم مولوي محمدولي (حقاني) په ۱۱/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د يوې غونډې په ترڅ کې د يادې محکمې قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محمکې استازي شيخ فريدالدين (حقاني)، د ښاري ابتدائيه محکمې پخواني رئيس مولوي آدم خان (ابوالجميل)، د يادې محکمې د ديوانونو رئيسانو، قضائي غړو او اداري کارکوونکو شتون درلود.

غونډه د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې شيخ فريدالدين (حقاني) مسؤولينو ته د لازمو توصيو ترڅنګ، په خپل منځ کې د کارونو د لا چټکتيا او لا ښې همغږۍ په موخه مهمې لارښوونې وکړې.

د غونډې په دوام د ښاري ابتدائيه محکمې پخواني رئيس له مسؤولينو د منندې تر څنګ د دوی د هر اړخيزو همکاريو يادونه او مننه وکړه.

دغه راز د نهر شاهي ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې پخواني رئيس او د ښاري ابتدائيه محکمې لپاره نوي ټاکل شوي رئيس له مسؤولينو د ورسپارل شوي مسؤوليت د ښه سرته رسولو، د خپلو پوره هڅو او هېوادوالو ته د هر اړخيزو خدماتو وړاندې کولو ډاډ څرګند کړ.

نوي رئيس د غونډې له ګډونوالو د همکارۍ غوښتنه وکړه ترڅو دا لوی او درونده مسؤوليت په ښه ډول سرته ورسوي.

غونډه د شيخ هدايت الحق (المظهري) په دعا پای ته ورسېده.

## بالای یک متهم در ولایت بلخ حکم جزای تعزیری تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی دهدادی ولایت بلخ بالای یک تن که متهم بر لواطت بود؛ امروز دوشنبه (مؤرخ ۱۳/ ۱۰/ ۱۴۴۶ هـ ق) در محضر عام حکم ۳۹ دُره جزای تعزیری تطبیق شد.

در جلسهٔ که به همین منظور در مقر ولسوالی دهدادی دایر گردیده بود؛ شیخ فرید الدین (حقانی) رئیس دیوان جزا محکمهٔ مرافعه، شیخ نورمحمد (حقانی) رئیس امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، رؤسا و نمایندگان ادارات آن ولسوالی و تعداد کثیری از مردم حضور داشتند.

جلسه با تلاوت چند آیات از قرآنکریم آغاز شد؛ بعداً رئیس دیوان جزا در رابطه به حدود، تعزیرات و حرام بودن افعال که شریعت آن را حرام گردانیده، در احکام شریعت اسلامی و اضرار آن به مردم و جامعه مفصلاً صحبت نموده گفت، تطبیق جزای تعزیری بالای مجرمین و متهمین که دست به اعمال خلاف شریعت میزنند سبب اصلاح خود و عبرت به دیگران میگردد.

در ادامه رئیس امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در رابطه به موضوع از دیدگاه شریعت اسلام و ارشادات نبی کریم (صلی‌الله علیه وسلم) صحبت همه جانبه نموده و تطبیق احکام شریعت را بالای مجرمین و عاملین چنین جرایم سبب رفاه مردم و اصلاح جامعه دانست.

جلسه بعد از تطبیق جزای تعزیری بالای متهم به دعاء خیر خاتمه یافت.

## د زابل ولايت د شنکۍ ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د مسؤولينو په هڅو د قتل موضوع حل شوه

د زابل ولايت د شنکي ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د مسؤولينو په هڅو او قومي مشرانو په منځګړيتوب په ۱۰/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه، د قتل يوه موضوع چې شپږ کاله مخکې په ياده ولسوالۍ کې رامنځته شوې وه، حل او فصل شوه.

ياده موضوع د شنکۍ ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د رئيس مولوي محمد (شفيق)، د يادې ولسوالۍ ولسوال، امنيه قوماندان، د استخباراتو د نظارت مسؤول په هڅو او د شنکۍ، اتغر او سيوري ولسواليو د قومي مخورو په منځګړيتوب حل شوه.

په دې موضوع کې د مقتول کورنۍ ته ديت ورکړل شو او قضيه د دواړو طرفونو په خوشحالۍ او رضايت سره پای ته ورسېده.

## بالای پنج مجرم و یک متهم در ولایت سرپل حکم جزای تعزیری تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ مرافعه و محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی بلخاب ولایت سرپل به تاریخ ۱۴ و ۱۵ ربیع الاول سال ۱۴۴۶ هـ ق بالای پنج تن به جرم روابط نامشروع و یک تن که متهم بر فعل زنا بود، حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

در گردهمائی که به همین منظور راه اندازی شده بود، علاوه بر مسؤولین و منسوبین محاکم تعداد کثیری از مراجعین و اقارب محکوم علیه نیز حضور داشتند.

قابل یادآوریست که از طرف محاکم مربوطه از جمله مجرمین یک مجرم بر ۳۹ دُره جزای تعزیری، مجرم دوم بر ۳۱ دُره جزای تعزیری، مجرم سوم بر یک سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری، دو مجرم دیگر را به سه سال حبس تنفیذی و ۲۹- ۳۱ دُره جزای تعزیری و یک متهم را به شش ماه حبس تنفیذی و ۳۰ دُره جزای تعزیری محکوم گردیده بود.

## د قضائيه قوې د محاکمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د نظامي مسلکي زده کړو له تعليمي مرکز څخه (۷۸) مجاهدين فارغ شول

سه شنبې په ورځ (۱۴/ ۳/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټه د سترې محکمې اړوند قضائيه قوې د محاکمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د تعليمي، عقيدوي او مسلکي زده کړو له مرکز څخه د (۷۸) مجاهدينو د فراغت غونډه ترسره شوه.

د يادو مجاهدينو د فراغت په پار جوړه شوې غونډه د محترم حافظ حضرت ولي لخوا د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې د جزا ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درویش) د امارتي ادارو مسؤولينو ته ښه راغلاست ووايه او د قضائيه قوې د امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د تعليمي مرکز د دويمې دورې مجاهدينو ته يې د فراغت مبارکي ورکړه.

محترم مفتي عتيق الله (درویش) وويل، ډېر د شکر ځای دی چې الله تعالی موږ ته د امن په فضاء کې ژوند را نصيب کړی، د اسلامي نظام قدر وکړئ، دغه نظام ته د يو ارزښت په سترګه وګورئ ځکه په دغه نظام ډېرې ځوانۍ قربان شوې او په دې لاره کې ډېرو افغانانو قربانۍ ورکړې دي.

محترم درويش صاحب د استشهاديانو او شهيدانو د فداکاريو او سربښندنو يادونه وکړه چې د دغه نظام لپاره يې خپلې تنکۍ ځوانۍ قربان کړې؛ فارغو شوو مجاهدينو ته په خطاب کې يې وويل، د دغه نظام ساتنه او پالنه وکړئ، د بقاء لپاره يې د سر او مال په بيه هڅې وکړئ، ستاسو نظامي زده کړې په قرآني او نبوي ارشاداتو کې ثابتې او يو لوی عبادت دی، رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) په خپله دوره کې هم مجاهدينو ته مسلکي نظامي زده کړې ورکړې دي.

د غونډې په دوام د سترې محکمې مرکزي زون د نظامي محکمې مفتي محترم شيخ نورالحق وينا وکړه وويل، مسلمانان بايد ځانونه په تمامه معنی د اسلام دين د مبارکو ارشاداتو مطابق جوړ کړي، خپل ظاهر او باطن پر اسلام برابر جوړ کړي او تقوا اختيار کړي.

دغه راز د غونډې په وروستيو کې فارغو مجاهدينو نمايشي حرکات ترسره کړل او غونډه مجاهدينو ته تر تصديق پاڼو وېشلو وروسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

## محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های کابل طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۳۸) دوسیه، به تعداد (۲۹۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت کابل از تاریخ (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۹۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۸) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی مانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۶۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۹) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی مانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های کابل به تعداد (۲۹۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۲۷) دوسیه، به تعداد (۲۵۳) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۲۷/ ۲/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۹/ ۳/ ۱۴۴۶هـ ق) به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی مانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۶) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی مانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۲۵۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۰۰) دوسیه، به تعداد (۲۱۵) قطعه وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۲۷/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۹/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده، (۴۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی مانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۵) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی مانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۲۱۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۳۷) دوسیه، به تعداد (۱۷۳) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غور، محکمهٔ اختصاصی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/۳/۱۴۴۶هـ ق الی ۱۵/۳/۱۴۴۶هـ ق) به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۵) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی مانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۲) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی مانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۷۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ جوزجان از محبس آن ولایت دیدار نمود

محترم مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت جوزجان؛ همراه با مولوی یار محمد (عمری) رئیس دیوان جزا مرافعه و مولوی گل محمد (رحمانی) رئیس دیوان جزا شهری، به تاریخ ۱ /۳ /۱۴۴۶ هـ ق از مدیریت عمومی محبس آن ولایت دیدار نمود.

رئیس محکمهٔ مرافعه در این بازدید حالت محبوسین را از نزدیک دید، برای شان توصیه نمود که در زندان بر اعمال بد تا پشیمانی نمائید و توبه کنید؛ تا دنیا و آخرت تان آباد شود.

همچنان رئیس محکمهٔ مرافعه به مسؤولین زندان برای حل و رسیدگی به مشکلات محبوسین هدایات لازم نمود گفت، که در زندان باید کسی بدون سرنوشت نماند؛ برای زندانیان اطمنان داده شد، که به دوسیه‌های تک ـ تک تان طبق اصول شریعت اسلامی رسیدگی خواهیم نمود.

رئیس محکمهٔ مرافعه در اخیر این دیدار به مسؤولین گفت، مسؤولیت که بدوش داریم، باید به صداقت و ایمانداری انجام دهیم، بالخصوص در رابطه به محبوسین که صاحب کرامت انسانی می‌باشند و در امور شان باعث نارضایتی خداوند متعال نشویم.

جلسه با دعاء خیر خاتمه یافت.

## د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت له زندان څخه لیدنه وکړه

د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد) په ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د یاد ولایت له زندان څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د مرافعه محکمې رئیس لومړی له نارینه وو او ښځینه وو بندیانو سره وکتل؛ ورپسې یې د زندان له طعام خونې، کلینیک، چاپیریال او اطاقونو څخه لیدنه وکړه او له زندانیانو یې د دوی د وضعیت په اړه بشپړ معلومات وکړل.

د لیدنې په وروستیو کې محترم مفتي خالد د زندان مسؤولینو ته لازمي سپارښتنې وکړې، ترڅو د شته امکاناتو سره سم د زندانیانو موضوعاتو ته رسېدنه وکړي او له هغوی سره د تل په څېر ښه چلند وکړي.

په پای کې د پکتیا زندان رئیس مولوي سهیل (سعید) د مرافعه محکمې عمومي رئیس ته ډاډ ورکړ چې موږ به تل هڅه کوو د اسلامي او شرعي اصولو په رڼا کې د زندانیانو غوښتنو او اړتیاوو ته رسېدنه وکړو او دوی ته د ارامۍ، سالمې او ښې فضاء زمینه برابره کړو.

## یک هیئت قضائی به هدایت رئیس محکمهٔ مرافعهٔ نیمروز از آمریت محبس و توقیف‌خانه های آن ولایت بازدید نمود

یک هیئت قضائی تحت ریاست مولوی محمد عیسی (مصباح الله) رئیس دیوان جزا محکمهٔ مرافعه به عضویت مولوی الله یار (حلیم) رئیس دیوان امنیت عامه، مولوی گل محمد (تائب) رئیس دیوان جزا محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، مفتی فراح الدین (حسینی) عضو قضائی محکمهٔ اختصاصی، مولوی آغا نور عضو دیوان جزا شهری به اساس هدایت محترم مفتی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز به تاریخ ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۶هـ ق از توقیف‌خانه های آمریت محبس، مدیریت مواد مخدر، مدیریت جنائی، مدیریت ترافیک و حوزه های چهارگانهٔ امنیتی شهر زرنج نظارت نمود.

هیئت قضائی از توقیف‌خانه های بخش‌های امنیتی شهر زرنج مربوط قوماندانی امنیه نظارت نمود، کدام مشکل خاص پیرامون توقیفی‌ها وجود نداشت.

در ادامه اعضای هیئت ضمن بررسی موضوعات مختلف راجع به توقیفی‌ها، گزارش خویش را با تفکیک هر نهاد امنیتی ترتیب و رسماً به محاکم مربوطه خبر داده شد، تا در میعاد اصولی به موضوعات شان رسیدگی صورت گیرد.

## د ستري محکمې د قضائي پلټنې عمومي رئیس په مشرۍ د چارو د چټکتیا او لا ښې همغږۍ په موخه غونډه وشوه

د ستري محکمې د قضائي پلټنې عمومي رئیس محترم شیخ عبدالرحمن (فراهي) په مشرۍ په ۹ /۳ /۱۴۴۶ هـ ق نېټه د یاد ریاست د تېروکړنو د ارزونې، راتلونکو چارو د لا ښه والي، چټکتیا او همغږۍ د تقویې په موخه قضائي او اداري غونډه وشوه.

په یاده غونډه کې چې د قضائي پلټنې عمومي ریاست کې جوړه شوې وه؛ د یاد ریاست معاون مولوي حافظ عبدالولي (محمود)، قضائي غړو او د تحریراتو آمر مولوي آمین الله (ندیم) ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د غونډې ګډونوالو په هغو لارو چارو تفصیلي خبرې او بحث وکړ چې د یاد ریاست چارو ته په ښه ډول پرې رسېدنه کېږي.

دغه راز د غونډې ګډونوالو د یاد ریاست د چارو د لا ښه والي، غوره مدیریت، مراقبت، نظارت او انسجام په اړه له یو بل سره خپلې ګټورې مشورې شریکې کړې.

سرپرست مسؤول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اډيټور: جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په مياشتکې درې ځله چاپيږي

## خلاصهٔ گزارش اجراآت ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه طی ماه صفرالمظفر سال ۱۴۴۶ هـ ق

ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه در جریان ماه صفرالمظفر سال ١٤٤٦ هـ ق فعالیت‌های ذیل را انجام داده است:

١ ــ به تعداد (۷۶۷) دوسیه از محاکم و مراجع مربوطه غرض اجراآت به این ریاست واصل و قید وارده شده‌است.

۲ـ به تعداد (۷۱۲) دوسیه بعد از اجراآت این ریاست که از آن جمله (۱۴۴) دوسیه حقوقی و (۲۷) جلد دوسیه جزائی بوده‌است، غرض تطبیق به محاکم و مراجع مربوطهٔ آن صادر شده‌است.

۳ ــ به تعداد (۵۳۳) مکتوب از محاکم و مراجع مربوطه به این ریاست وارد و تحت اجراآت قرار گرفته است، که از آن جمله به تعداد (۵۲۱) مکتوب بعد از اجراآت به محاکم و مراجع مربوطه ارسال شده‌است.

٤ ــ به تعداد (۱۱۳۱) عریضه بعد از اخذ و ثبت مورد رسیدگی قرار گرفته‌است.

٥ ــ به تعداد (۱۱۵۱) عریضه بعد از احکام برای عارضین تسلیم داده شده‌است.

٦ ــ به تعداد (۴۳۶۶) مراجعین غرض اخذ معلومات به غرفهٔ معلوماتی این ریاست مراجعه کرده؛ که در رابطه به موضوع شان معلومات داده شده‌است.

۷ــ به تعداد (۱۵۶۸) مراجعین با رئیس ریاست عالی تمیز مرکز ملاقات نمودند، مشکلات شان حل گردیده و تعداد دیگر شان را هدایت به حل مشکل شان داده‌است.

۸ــ به تعداد (۸۳) دوسیه را رؤسا و مفتی‌ها از پنج دیوان جهت مشوره با رئیس ریاست عالی تمیز شریک ساخته، که بعضی شان را تائید و بعضی شان هدایت به بررسی دوباره داده شد.

۹ ــ به تعداد (۱۰۴) دوسیه را مفتی ها تمیز مرکز همرای رئیس ریاست عالی تمیز مرکز شریک نموده‌اند؛ که از آن جمله (۶۴) آن تائید و به تطبیق ارسال شده‌است و (۴۰) دوسیه مسترد و غرض فیصلهٔ شرعی به محاکم خاص ارسال گردیده‌است.

## بالای دو متهم و یک مجرم در ولایت فاریاب حکم جزای تعزیری تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های پشتونکوت و شیرین تگاب ولایت فاریاب، بالای دو زن که متهم بر زنا بودند و به یک مرد به اساس داشتن جرم فرار دادن زن از منزل امروز سه شنبه مؤرخ ۱۴/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

در گردهمائی که به همین منظور دایر گردیده بود، الحاج مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب، قضات، مفتیان، مسؤولین ملکی و نظامی، اعضای شورای علماء ولایت فاریاب و جمع کثیری از مردم عام حضور داشتند.

این گردهمائی که در صحن محکمهٔ مرافعهٔ دایر گردیده بود با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس رئیس محکمهٔ مرافعه در مورد تطبیق حدود و تعزیرات طبق شریعت غرای محمدی (صلی‌الله علیه وسلم) ایراد فرموده افزود، تطبیق حکم مجازات بالای مجرمین بسیار مفید و باعث آرامش خلق‌الله و عبرت به دیگران میگردد، کسانیکه امروز تعزیر بالای شان تطبیق میگردد، باید خود را اصلاح نمایند و از اعمال و افعال که شریعت اسلامی آن را منع فرموده خودداری کرده به درگاه الله (جل‌جلاله) توبه نمایند.

محاکم ابتدائیه از جمله افراد ذکرشده یک متهم را به ۳۹دُره جزای تعزیری و یک سال حبس تنفیذی، متهم دوم را به ۲۹دُره جزای تعزیری و مجرم دیگر را به ۳۹دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این حکم بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

### د متحدالمآل ګڼه: ۷
### نېټه: ۵/ ۱۴۴۶/۳ هـ ق

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د مشرتابه محترم عالي مقام حکم د افغانستان بانک او بانکي سکتور اړوند قضیو ته د اولیت ورکولو په اړه.

د افغانستان بانک عمومي ریاست پیشنهاد نمبر (۳۸) مورخ ۱۴۴۵/۱۰/۱۴ هـ ق د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې کړی او د افغانستان بانک او بانکي سکتور اړوند قضیو ته یې په محاکمو کې د حق اولیت ورکولو غوښتنه کړې ده.

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۶۲۷۹) مورخ ۱۴۴۵/۱۲/۲۲ هـ ق په توسط د سترې محکمې محترم مقام ته داسې هدایت کړی: « تاسو محاکمو ته هدایت وکړئ چې و دغسي موضوعاتو ته اولیت ورکړي.»

بناءً یاد حکم ددې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شو.

### د متحدالمآل ګڼه: ۸
### نېټه: ۶/ ۱۴۴۶/۳ هـ ق


د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!


السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د مشرتابه محترم عالي مقام حکم د هېواد د اهل هنود وګړو د غصب شوي ځمکو قضیو ته د رسیدګۍ د صلاحیت په اړه.

مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۵۷۷۶) مورخ ۱۴۴۵/۱۱/۲۶ هـ ق په توسط د هېواد د اهل هنود وګړو د غصب شوي ځمکو په اړه داسې هدایت کړی:»د غصب سوو مځکو قضیو ته دي د کمېسیون له لارې اختصاصیه محاکم رسېدنه کوي، د یادو قضیو څخه پرته نور موضوعات دي اړوند محاکم حل او فصل کوي»

بناءً یاد حکم ددې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شو.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳